مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

William Knox 1789 1825
ترجمه: عبدالباری جهانی

۲۰۲۴/۰۱/۰۷

# مړينه او فنا
# Mortality

ګوره څرنګه مغرور دي انسانان چې فنا کېږي
لکه ستوري داسې لوېږي لکه وريځې چې تېرېږي
لکه موج هسې ژر تېر سي د برېښنا غوندي پرکېږي
د ژوندو له تولی ولاړ سي د لحد سيني ته لوېږي
هم به پاڼی له ځېړيو هم له ولو را تويېږي
سره تيت يې کړي بادونه سره بيرته را غونډېږي
که ځوانان دي که زاړه دي که نېستمن  که بډايان دي
سي له خاورو سره خاوري په يوه ځای کی تولېږی

که ماشوم وو که يې مور وه چې په مينه يې پاللی
هغه مور چې محبت يې اسمانووو ازمېيلی
که يې پلار وو که يې مورره  که ماشوم چې دوی ته ګران وو
زموږ له سترګو پناه سوي هر يو خپل پر لوري تللی

هغه ښکلي او رنګينه چې يې سترګي تورولي
چې په ناز به وه روانه چې نخرې  به يې پلورلي
چې زلميان باندی مين وه چې پر  هر ځای وه ستايلي
هم هغوی د خلکو هېر دي او  هم دا له ياده تللي

چې قدرت به ورسره وو د پاچا هغه لاسونه
د کشيش تندی او ورو‌ځی  پر سپاره به وه خولونه
د پيرانوکاري سترګي د زړه ورو قوي زړونه
تولـه لاندي سول تر خاورو په نازېږي لحدونه
ها بزګر چې په نصيب يې  رسېدلي وه کښتونه
ها شپانه چې ورسره وه په درو کی خپل پسونه
ها ګدا چې يې وهله په ډوډۍ پسې مزلونه
د وبنو په څېر وچ سوي موږ ايړدو باندي ګامونه
هغه پير چې يې پاللي د جنت هيلی په زړه کی
هغه بل چې ګناه کاروو اورېدل پري لعنتونه
که هوښيار دی که بې عقل که صالح که ګناهکاره
تولـه خاوری سول  دخاورو سره ګډ يې سول هډونه
هسی ځی له دې جهانه لکه ګل اوواښه دواړه
دوی وچېږی  نور تري نيسی  هم دښتونه هم باغونه
ډلي ډلي راځی ولاړ سي موږ په سترګو ورته ګورو
افساني دي چې تېرېږي تکرارېږی داستانونه
موږ  هغسی انسانان يو لکه وه چې زموږ پلرونه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په څير و لولئ

موږ هغه په سترګو وینو چې شاهد مو وه نیکونه
پر هغې ویالي اوبېږو هغه لمر دی چې ځلیږي
چې پلرونه مویر تللي پې کوو هغه مزلونه

موږ لرو هغه فکرونه چې پلرونومو لرله
لکه موږ له مرګه ځغلو دوی به هم تري بېرېدله
دا چې موږ ته ژوندون خوږ دی دوی ته هم داسې شېرین وو
خو د باد په شان تېرېږو د دنیا له هر منزله

دوی لرل په زړو کې مینه موږ ته نه را معلومېږی
دوی درلود زړونوکی قهر اوس یې زړونه نه خوځېږي
پر دوی هم راغلل غمونه فریادونه یې خاموش دي
نه اواز یې د خوښیو زموږ غوږونو ته رسېږی

اوس دوی مړه دي موږ ژوندي یو او په خپل ژوندون نازېږو
موږ د دوی پر سترګو ګرځو پر دي مځکه چې تېرېږو
یوه ورځ به موږ هم جوړ کړو د دوی څنګ ته خپل کورونه
چې دا نن ورځو زیارت ته چې پر لار ور روانېږو

که امید که ناهیلي ده که خوښئ دي که دردونه
سره ګډ دي لکه وړانګي او له پاسه بارانونه
که موسکا ده اوکه اوښکي که سندري دي که ساندي
یو په بل پسی رادرومی لکه موج پسی موجونه

په یوه رپ کی دسترګو په یوه نفس ایستلو
روغ رمټ تر مرګي ورسو نور بیا نه یو د کتلو
نن د تخت له پاسه ناست یو سبا ګورته ور روان یو
دا په ښشی موږ نازېږو دا غره ولی په ځان یو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ